نظرمحمد مطمئن
۲۰۱۵/۱۱/۲۶

# دوی چیرته دي؛ ژورنالست، لیکوال، مدني فعال او رسنۍ

د نومبر ۲۴مه نیټه ۲۰۱۵، مازیګر مهال د کابل ښار تر ټولو امن سیمه نوي ښار کې د دعوت پوهنتون استاد او د سیاسي چارو کارپوه احمد سعیدي په ډزو وویشتل شو.
سعیدي موده وړاندې افغان امنیتي ادارو ته خبر ورکړی وو چې نا پیژاندو په مرګ ګواښلی او لامل یې هم دادی چې ولې په رسنیو کې پر ځینو سیاستوالو سختې نیوکې کوي.
د بیان آزادي همدومره ده چې خلکو ته ورکول کیږي تر څو چې یکې د دولت او سیاستوالو رازونه پټ ساتلي وي که چیرته نیوکه د دولت پر ناسمو کړنو او یا هم د سیاستوالو په کړنو کیږي بیا نو دوی ته د زغم وړ نه وي.

ښاغلی سعیدي پوهیدی چې پر هغه به حمله کیږی له ده مخکې جنرال هزاره باندي هم د هغه د کور سره نږدې حمله وشوه، رازق مامون هم تر برید لاندې راغی او په همدې نوي ښار کې د غني د کمپاین د مطبوعاتو څانګې کارکوونکی لعل پاچا ازمون هم په چاقوګانو وهل شوی وو.

پر سعیدي حمله به وروستی نه وي دا لړۍ ممکن تیزه شي ځکه سیاستوال او حکومت به خپلې ناکامۍ او تیروتنې هیڅکله هم ونه منی، پر زورورو یې وس نه رسیږي نو ځکه به پر هغه چا برید کوي چې تر وس لاندې وي او همدا فرهنګی او مطبوعاتي خلک دي چې له جګړه مارو سره تر ډیره رابطه نه لري.
سمه ده چې سعیدي صاحب د امریکا سفارت سره نږدې روابط درلودل، د بریتانیا سفارت کې یې هرکلی کیدی او هر وخت دهمدې بهرنیو سفارتونو له خوا ښځه دعوت کیدی.
سعیدي تر هغه وخت پورې ډیر ښه وو، ترڅو چې د ولسمشریزو ټاکنو د کمپاین پر مهال به ده او نورو د سیاسي چارو شنونکو ته په کابل ستار میلمستون او خوړنځای کې ډوډۍ کیدلې، د سیاستوالو له خوا نازول کیدل، او دوی به هم د هغوی په ګټه په رسنیو کې خبرې کولې، کله چې سیاستوالو خپل هدف ورخخه ترلاسه کړ، او د واک د وېش په اړه د غني او عبدالله تر منځ ستونزې پیداشوې، سعیدی چې د ډاکتر عبدالله سره په کمپاین کې وو، حتمي ده چې د لوړې چوکۍ توقع به یې درلوده، خو داچې د عبدالله برخه دومره هم نه وه چې ښاغلی سعیدي یکې وزیر، د وزیر مرسیتال او یا خو د کوم ولایت والي شي، هغه څو میاشتې حوصله وکړه، او لا هم د عبدالله له ډلې سره پاتې شو، سعیدي دا هم ویل چې د کمپاین پر مهال یې د کورنی کوم غړی هم قرباني شوی او وژل شوی، کله چې مایوسه شو او پوه شو چې کومه مناسبه چوکۍ ورته نه رسیږي حوصله یې له لاسه ورکړه او د عبدالله له ډلې سره یې خدای پاماني وکړه.
له سعیدي صاحب سره ډیر رازونه وو، داچې د ډاکتر عبدالله په ډله کې له پټو او مهمو رازونو او ځانګړې ډول په ټاکنو کې د درغلیو ښځه ښه خبر وو، د امریکا او بریتانیا سفارتونو ښځه هم ډیر معلومات یې د حکومت د بې وسي او کمزورې اړوند ترلاسه کول، په دعوت پوهنتون کې یې هم د استاد سیاف د ډلې له کسانو سره ناسته پاسته وه، دا ډول یې په وروستیو وختونو کې د ښاغلي کرزي ښنګ ونیوی.
پر حکومت یې بې دریغه نیوکې کولې او په ځانګړې ډول پر پخوانیو ملګرو چې اوس ورخخه بېل شوی وو، د دغو نیوکو له امله ورته د مرګ ګواښ وشو، سعیدي د خپل ځان د امنیت له پاره ساتونکې هم پیداکړل، خو بالاخره وویشتل شو او تر دې مهال په ایمرجنسي روغتون کې د کوما په حالت کې پروت دی.

زه هیڅ نه پوهیږم چې سعیدي به چا ویشتلي وي او ممکن سعیدي صاحب نور مخالفین هم درلودل، خو په نوی ښار کې د هغه ویشتل ښیي چې د کورنیو مخالفتونو او د خپل نظر وړاندې کولو قرباني شوی دی.

که ښاغلی سعیدی د کومې دولت ضد وسلوالي ډلې له خوا په ښنه شوی او ویشتل شوی وای نو حتمي وه چې د رسنیو د سر خبر به پر ښاغلي سعیدي د برید خبر وو، له دې ها خوا به د نی اداري، د خبریالانو ټولنې او مدني فعالانو عاجل مطبوعاتي کنفرانسونه ورکړی وای، لیکوالو به په لیکنو کې د ده ویشتل غندلی وای.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

تر دي دمه زما د معلوماتو له مخې يواځې ولسمشر غني د ده پر ويشتلو خواشيني ښکاره کړي او د تل په څير يې بيا ځل ويلي چې امنيتي ادارو ته دنده سپاري چې پر سعيدي حمله کوونکي مجرمين ونيسي او د قانون منګلو ته يې وسپاري.
داچې پر ښاغلي سعيدي د حملې پړه هيڅ کومې دولت مخالفي وسلوالي ډلې پر غاړه نه ده اخستي او د کابل ښار کې تر بريد لاندي راغلي، ښکاري چې د خپلو آزادو نظرياتو قرباني شوی دی.

اميد دی چې رسنۍ، ليکوالان، خبريالان او مدني فعالان نور دغسې د مور او ميرې چلند پرېږدي، ښاغلی سعيدي تر بريد لاندی راغلی، ويشتل شوې او د بيان د آزادي او خپلو سياسي افکارو د ښکاره کېدو قرباني شو.

تر څو چې سياسي کارپوهان، ليکوالان او خبريالان د اسلام مقدساتو او افغاني کلتوري ارزښتونو ته سپکاوي ونه کړي بايد تر بريد لاندي را نه شي او د سياستوالو د سياسيلوبو قربانی نه شي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ